PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دې په نورو سړیو ملنډی ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملنډی وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له معقل بن یسار المزنی رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي:
الله پاک چې چاته د خلکو واکمني په لاس ورکړي، او بیا ده ته مرګ پداسې ورځ راشي چې دې له خپل اولس سره په تګی کې وي، نو الله ...
بې د تل لپاره له جنت څخه بې برخې کړي. (رواه مسلم، فی کتاب الایمان)

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

شهادت درېیم کال، ۱۸ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۸ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د زمري ۵ مه د۱۴۳۲ هـ ق د شعبان ۲۲ مه د۲۰۱۱ م د جولای ۲۷ مه

نړیوالو ځواکونو بیا زده کوونکي ووژل

اسعداباد، پژواک:
د کونړ والي وایي، چې د ایساف او وسلوالو طالبانو په بریدونو کې نهو عامو وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.
والي سید فضل الله وحیدي د زمري په ۴مه پژواک خبري اژانس ته وویل، چې تېره ورځ ناوخته وسلوالو مخالفینو د دغه ولایت په وټه پور ولسوالی کې د ناټو ځواکونو پر نظامي اډې برید وکړ.
هغه زیاته کړه، چې توغول شوې مرمۍ پر نظامي اډې نه، بلکې اډې ته نږدې د خلکو پر کورونو لګېدلې دي.
د والي په وینا، د یوې مرمۍ د لګېدو له امله د یوه کور څلور غړي، چې ملکي خلك و، ټپیان او روغتون ته رسول شوي دي.
وحیدي وایي، چې له دغه برید وروسته د ایساف هوایي ځواك پر هغې سیمې بمبار وکړ، له کومه چې د دوی پر مرکز برید شوی و.
خو والي وایي، چې د ایساف هوایي ځواك هم هدف خطا کړ او د سیمې د اوسېدونکو پر کورونو یې بمبار وکړ.
سید فضل الله وحیدي وویل، چې د

پاتې ۴مخ

بانک جهانی در صورت عدم توجه به بخش اقتصادی از عواقب پروسهٔ انتقال هشدار داد

کابل، پژواک:
رییس بانک جهانی می گوید که پروسه انتقالمسوولیت ها به نیروهای افغان به یک ستراتیژی تقویت اقتصادی نیاز داردو کاهش غیرپلانی و نامتوازن نیروها می تواند سبب هدر رفتن دستاوردهایی گردد که به خون انسان ها به دست آمده است.
درخبرنامهٔ بانک جهانی درافغانستان که بتاریخ ۴ اسد به آژانس خبری پژواک رسیده آمده است که این مطلب را رابرت زولک رییس عمومی بانک جهانی دو روز قبل بیان کرده است.
قرار است برنامهٔ انتقال مسوولیت ها از نیروهای خارجی به نیروهای افغان که به تاریخ ۲۶ سرطان آغاز یافته تا ختم سال ۲۰۱۴ تکمیل گردد.
رییس بانک جهانی گفته است، قرار است که عساکر امریکایی و ناتو عنقریب از افغانستان خارج شوند و این در حالیست که افغانها این سوال را میپرسند که آیا نیروهای امنیتی افغان خواهند توانست امنیت شانرا تأمین کنندو در عین زمان سوال دومی که مطرح استاین است که ایا اقتصاد افغانستان زمینه را برای انکشاف اینکشور مهیا خواهد ساخت؟
به گفته موصوف، افغانستان باید خودکفا گردد وهمکماران بین المللی افغانستان باید هم اکنون با هم یک جا در مساعی مشترک با دولت طوری پلان گذاری کنند که این کشور به هدف یادشده به صورت عملی دست یابد.
رییس بانک جهانی می گوید که بدون اقتصاد پایدار محال است که دولت افغانستان بتواند مصارف نیروهای امنیتی خویش را پرداخته، حاکمیت ملی را توسعه دهدو فرصت های لازم را جهت مبارزه با ناامنی فراهم سازد.
به گفته وی، به دلیلی که احتمال کاهش ناگهانی و بیشتر از توقع کمک های جامعه جهانی با افغانستان

بقیه در صفحه ۴

راین کراکر:

امریکا از افغانستان رونخواهد گشتاند

کابل، رسانه ها:
سفیر جدید امریکا در افغانستان می گوید: کشورش از افغانستان رو نخواهد گشتاند.
کراکر این موضوع را روز دوشنبه بعد از آن بیانداشت که به حیث سفیر جدید امریکا در کابل سوگند وفاداری یاد کرد.
بعد از آن که رییس جمهور امریکا بارک اوباما در ماه جون امسال اعلان کرد که تا سال آینده ۳۳ هزار نیرویش را از افغانستان خارج می کند، این نگرانی در افغانستان افزایش یافته که امریکا بار دیگر افغانستان را رها خواهد کرد.
بعد از خروج نیروهای روسی از افغانستان در پایان دههٔ هشتاد میلادی، امریکا از افغانستان رو گشتاند و افغان ها جنگ داخلی را در مقابل یک دیگر آغاز کردند.
حال هم تعداد زیاد افغان ها فکر می کنند که اگر نیروهای خارجی از افغانستان خارج شوند، حقایق دههٔ ۹۰ دوباره تکرار خواهد شد و جنگ داخلی حکمفرما خواهد گشت، ولی سفیر جدید امریکا در افغانستان راین کراکر گفت: کشورش در خروج

بقیه در صفحه ۴

حامد کرزی: تا وقتیکه شرایط ما پذیرفته نشود، پیمان ستراتیژیک به امضا نمی رسد

کابل، رسانه ها:
رییس جمهور کرزی می گوید: در صورتی روی پیمان همکاری های دراز مدت ستراتیژیک با امریکا موافقه خواهند کرد که شروط افغانستان از سوی ایالات متحده امریکا پذیرفته شود.
رییس جمهور کرزی که در یک نشست خبری صبح دیروز در کابل صحبت می کرد، در مورد شرایط افغانستان در رابطه به قرارداد همکاری های دراز مدت ستراتیژیک چنین گفت: "شرط این است که خود سری های نیروهای خارجی در افغانستان گرفته شود، شرط این است که حضور نیروهای خارجی در افغانستان باید قانونمند شود، شرط این است که آنها نباید از طرف شب داخل خانه های مردم شوند، آنها باید بندی خانه نداشته باشند، در این موارد تا حالا ما با آنها به توافق نرسیده ایم. تا زمانیکه این

بقیه در صفحه ۴

د امریکا په ملیونونو ډالر طالبانو ته رسېدلي

امریکا، رسنۍ:
د امریکا متحده ایالتونو د دفاع وزارت یا پنټګان وایي له یوه کال راهیسې اوږدو پوښي.
څېړنو دا ثابته کړې، چې له ناټو سره جنګېدونکو وسلوالو طالبانو د امریکا د ټرانسپورټ له څو ملیارد ډالري ترونونو څخه پیسې ترلاسه کړې او د هغوی د پیاوړي کېدلو سبب شوې.
د امریکا د دفاع وزارت ویاند ډګروال ډېو لاپن د دوشنبې په ورځ د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې دا رپور ومانه، چې په افغانستان کې د امریکایي توکو د لېږد د دوه اعشاریه یو ملیارد ډالري ترون یوه اندازه پیسې د وسلوالو طالبانو لاسته ورغلې دي.
د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې وړمه ورځ رپوټ ورکړ، چې د امریکا د ایف بي ای او ملي امنیت ګډې څېړنې دا زیاته .کړې، چې وسلوالو طالبانو له هغو قراردادیانو پیسې ترلاسه کړې، چې په افغانستان کې امریکایي پوځیانو ته، خوراکي توکي، تېل او نور اکمالات کوي.
دوی د مال د خوندي لېږدولو لپاره وسلوالو ته پیسې ورکړې او هغوی، وسلې او وسایل پرې رانیولي او لا یې خپل جیبونه پرې ډك کړي.
په رپوټ کې زیاته شوې، چې دا قردادیان د مالونو د خوندیتوب لپاره د پیسو په ورکولو، پیسو منځلو او بډو درغلیو پېژندل کیږي.

پاتې ۴ مخ

دا د حکومت کولو کوم سلوک دی؟

محمد خلیل

ښاغلې کرزی او دهغه د اقتدار ملګري دې دا واقعیت ومني چې هغوی د افغانستان د خوریدلي ولس د اعتماد او ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره تر اوسه یو ګام یې هم نه دی اوچت کړی. د تېرو یو لسو کلو راهیسې چې د اقتدار او څوکی خاوندانو د ولس سرمایه او بیت المال څومره په بې رحمی او بې پروایی سره لوټلې د تاریخ په اوږدو کې ددې مثال نه شي ترلاسه کېدلې. د تېرو یو لسو کلو په اوږدو کې چې څومره مرستې د افغانستان د بیارغاونې په موخه له افغانستان سره شوي دي لدې وړاندې چېرته هم د تاریخ په اوږدو کې دومره مرستې نه وې شوې، خو له بده مرغه ددې پر ځای چې دا پیسې پر ځای لګول شوې وای او د افغانانو د خېر ښېګڼې لپاره مصرفې شوې وای د اقتدار د خاوندانو شخصي جیبونو ته ولویدلې، ددې پر ځای چې د افغانانو د اقتصادي مشکلاتو د کمولو لپاره کار ترېنه اخستل شوې وای او افغانستان وربانديې آباد شوې وای د دوبی، سویزرلینډ او د اروپا بانکونه وربانديې ډك کړای شول، دلته د افغانستان غریب ولس د یوې نوړی وچې ډوډی لپاره سرګردان او پریشانه ګرځي مګر د اقتدار خاوندان په مزو او چړچو کې دي په سلو کې ۹۵ پیسې پخپلو جیبونو کې اچوي خو پاتې پنځه نور هم په انصاف سره نه لګوي، ...

پاتې دویم مخ

آری، چنین است وضعیت زندگی مردم افغانستان!

صفحه دوم

د مخابراتي شبکو ۱۱۰ نوي ټاورونه ودرول شي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت وایي، د روان لمریز کال په اوږدو کې به د هېواد په یو شمېر نورو سیمو کې د مخابراتي شبکو یو سلولس نوي ټاورونه ودروي.
د دې وزارت د مخابراتي خدمات د تنظیم د اداري مسئول انجینیر خیرمحمد فیضي د سې شنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې دا ټاورونه به په هغو ناامنه او لیرې پرتو سیمو کې ودرول شي چې، مخابراتي خدمات یا بیخي نه دي ور رسیدلي او یا په کې کم دي:
"د هېواد د دیرشو ولایتونو په یو سلو

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د مشکلاتو اصلي جرړه چېرته ده!؟

ډېرې وگړي پوښتنه کوي چې په افغانستان کې سوله او امنیت ولې نه راځي؟

ددغې پوښتنې په ځواب کې ډېر شنونکي او د نظر خاوندان جلا جلا نظرونه لري. ځینی خارجي عوامل د سولې په وړاندې خنډ گڼي او ځینې نور داخلي عوامل.

لدې نه هېڅ انکار نشي کیدلې چې دواړه عوامل د سولې په وړاندې خنډ دي خو په دې کې لوی لاس د داخلي عواملو دی او همدغه داخلي عوامل د خارجي عواملو د را دننه کولو باعث گرځیدلي دي. د مثال په ډول له کومې ورځې نه چې زموږ د افغانانو ترمنځ ملي یووالې ختم شوې له همغې ورځې نه بهرني مداخلې زیاتې شوي دي. مطلب دا چې د افغانانو د ملي یووالې نه شتون ددې باعث گرځیدلی چې بهرني هېوادونه زموږ په خاوره کې لاسوهنې وکړي او زموږ امن وگواښي، د همدغه ملي یووالې نه شتون زموږ د افغانستان ټول هغه بنیادونه کمزوری کړي چې د یو هېواد د سلامتیا او استحکام لپاره خورا ضروري دي. د بېلگې په توگه زموږ اقتصاد، دفاع او تعلیم او تربیه، دومره کمزوری شوه چې نورو هېوادو ته لاس نیولو ته اړ کړو، ښکاره خبره ده چې کله د یو هېواد وگړو ملي وحدت ټوټې ټوټې شي نو اقتصاد او تعلیم و تربیه یې هم زیانمن کېږي بیا نه یوازې دا چې بل چاته د گدایی کچکول نیولو ته اړ کېږي بلکې دهغه د شرایطو منلو ته هم غاړه ږدي.

موږ د تېرو څو لسیزو راهیسې په همدغه مشکل کې راگیر شوي یو، خو لدېنه د وتلو یواځینی لاره داده چې له هر څه دمخه دهغه ملي یووالی بنسټ د بیارغونې لپاره سره یو لاس شوو چې زموږ د ټولو مشکلاتو او کړاوونو د ختمولو ضامن دی.

تر څو پورې چې په افغانستان کې ملي یووالې منځته نه وي راغلې زموږ د افغانانو یو مشکل هم نشي حلیدلې، خو کله چې ملي یووالې تأمین شي نو د افغانانو اقتصادي مشکل او نورې کمزوریانې هم له منځه ځي.

لنډه دا چې ملي یووالې د افغانانو لومړی ضرورت او د ټولو مشکلاتو د له منځه وړلو یواځینی نسخه ده.

افغانانو ته پکار دی چې خپل ټول قوت او استعداد د ملي یووالې او پخپلو منځو کې د سولې د راوستو او د امن پر تغر د راغونډېدو لپاره وقف کړي تر څو چې افغانان ددغه ستر هدف په ترلاسه کولو کې نه وي بریالي شوي نه د بهرنیو د مداخلو مخه نیول کیدلې شي او نه هم دهغوی له مرستې نه بې نیازه کیدلې شي، دا دواړه داسې حالتونه دي چې له دې نه د استغنی له ترلاسه کولو پرته د خپل استقلال ساتنه نشي ممکن کیدلې او بهرنیان چې هر څه غواړي په پراخ مټ به ترسره کوي، کله به یو هېواد د افغانانو په حریم یرغل کوي او کله به بل هېواد، چیغې او فریاد به کوو خو هېڅ نتیجه به نه لري. راځئ له ټولو ناخوالو څخه د خلاصون دترلاسه کولو او د یو آزاد، مستحکم او خپلواک افغانستان په خاطر ملي یووالې تأمین کړو. خپل ټول جعلي او ناروا اختلافونه شاته کړو او د یووالې په غښتلي مټ دخپلو دښمنانو ناوړی ارادې شنډې کړو.

آری؛ چنین است وضعیت زندگی مردم افغانستان!

اعزامی

وضعیت جنگی و اوضاع بحرانی کشور ما واقعاً مصیبت آفرین است و هیچ روزی نیست که در اثر جنگ و درگیری و بمبارد و یا حملات شبانه و اختطاف و انتحار و انفجار، چند افغان کشته، زخمی، ربوده و متألم نشوند. این مصیبت چنان فراگیر است که هیچ کس اعم از مرد و زن، شاه و گدا، سرمایه دار و غریب، کارمند و بیکار، داخلی و یا خارجی، سلاح دار و بی سلاح از آن مصئون نیست.

چند روز قبل زمانی که حامد کرزی رئیس جمهور کشور از حادثه ترور برادرش احمد ولی کرزی اطلاع حاصل کرد، او مصروف ملاقات رسمی با نیکولای سرکوزی رئیس جمهور فرانسه بود، لحظات بعد طبق پروگرام از قبل تعبیه شده، باید همراه با او در یک کنفرانس خبری در برابر خبرنگاران قرار می گرفت. مطابق پروتوکول رئیس جمهور کشور در وهلهٔ اول ایجاب می کرد با جملات تشریفاتی آقای سرکوزی را به خبرنگاران معرفی می کرد و تشریف آوری وی را در افغانستان خیر مقدم می گفت، مگر جناب حامد کرزی حین مواجهه با خبرنگاران با دل پُر درد و گلوی گرفته جملات نخست بیانیهٔ خود را به إخبار واقعه ترور برادرش تخصیص داد و پس از استرجاع الهی چنین گفت: ((چنین است وضعیت زندگی مردم افغانستان، در خانه های مردم ما هر روز این نوع رنج ها اتفاق می افتد، امیدواری ما اینست که إن شاء الله این رنج های مردم افغانستان از بین برود و در وطن ما صلح و امنیت حاکم شود...))

رئیس جمهور از این باب حرف ها و درد دل های بیشتری به اظهار نمودن داشت، ولی توان طول دادن آن گفته ها را نداشت و سخنان خود را خلاصه کرد و همین طور با گفتن چند جمله دیگر از روابط و همکاری های دولت فرانسه به افغانستان مختصراً یادآوری کرد و آنگاه از همتای فرانسوی اش سخنان تسلیت آمیزی شنید.

دوام جنگ واقعاً مصیبت آفرین و تباه کننده است، اثرات سوء جنگ در درو دیوار هر خانهٔ افغان به مشاهده می رسد، حتی خارجی ها هم از ادامه جنگ و وارد شدن نتایج ناگوار آن به روان و اقتصاد کشورهای شان به ستوه آمده و اکنون در صدد برون کردن قوای خویش از افغانستان و سپردن مسؤولیت های امنیتی به خود افغان ها اند. رئیس جمهور با داشتن ده سال تجربه جنگ و بحران و در کنار حمایت های بی دریغ خارجی ها که برای تأمین صلح و امنیت در کنار نیروهای داخلی افغان همکاری دارند، به این نتیجه رسیده است که ادامه جنگ به زیان مردم است و کیان کشور را به باد فنا می دهد. خارجی ها هم با تمام ساز و برگ نظامی و جنگ افزارهای مدرن شان از جنگ و نتایج تلخ آن خسته شده اند. رئیس جمهور با وجودیکه درد عمیقی از بابت ترور برادرش احساس می کرد و تصویر آن را هر بیننده ای در سیمای او نظاره می نمود، ولی او با خون سردیٔ درد خود را با درد ملتش شریک کرد، او تنها از درد خود تنالید، بلکه گفت این دردها هر روز و شب خانه دهها افغان را دق الباب می کند و هیچ روزی نیست که جمعی از افغان ها به بهانه های گوناگون در عزای دوستان و عزیزان شان ننشینند. او تلویحاً به مردم خود گفت که این مصیبت به حدی فراگیر و بی رحم است که حتی رئیس جمهور و خانوادهٔ او نیز از شر آن در امان نیست، چنانچه امروز همین مصیبت به سراغ خانوادهٔ کرزی آمده و عضو محبوب ما را از نزد مان گرفت.

درهمین هنگامی که عادتاً جناب کرزی باید فقط به غم و اندوه مرگ برادرش می پرداخت، او روی سخن را بسوی ملت کرد و گفت: ((خانواده های مردم افغانستان روزانه هرکدام این نوع رنجها را می کشند و امیدوارم که این رنج های مردم از بین برود و صلح وامنیت در کشور حاکم شود.))

واقعاً هر زعیمی باید قبل از آنکه به غم و شادی خود بیندیشند، به غم و شادی قوم خود بیندیشند، و قبل از آنکه آه و افسوس سینهٔ خود را خالی کند، از حال زار و رنج سینه های زخمی ملتش یاد کند.

قبل ازین برنامه های صلحی را که دولت در دست اجرا داشت و دارد و برای تعمیل آن تبلیغات براه انداخته شده است، بعضی ها به نظر شک و تردید می دیدند، ولی از اظهارات دردمندانهٔ رئیس جمهور که از عمق دل وی و ریش سینه های دردناک ملت افغان ترجمانی می کرد، چنان پیداست که او مجدانه در صدد آنست که ریشه این مصایب را بخشکاند و دوای اصلی درد مردم افغانستان را تجویز نماید.

بدون شک برقراری صلح و تأمین امنیت، یگانه راه زدودن رنج و درد مردم افغانستان است زیرا جنگ است که هر روز جمعی از خانواده ها را در سوگ عزیزان شان می نشاند. بیائید که با رئیس جمهور همصدا و همگام شده پروسهٔ صلح را مخلصانه پیاده کنیم و بنام مصالحه در پی اغوای طرف مقابل نباشیم، بلکه با اخلاص مندی، نیات و احساسات همه اطراف را درک نموده، برای دادن پاسخ مثبت به آن ها با از خودگذری، مدارا، جوانمردی و رواداری برخورد نمائیم. از تمام اصحاب قلم، علم و فرهنگ خواهشمندیم که از نوشتن و گفتن و انتشار مطالب تفرقه انگیز و خصمانه در رسانه ها اجتناب نمایند و در عوض رئیس جمهور و سایر دست اندرکاران صلح بالخصوص شورای عالی صلح را به تعمیل صادقانهٔ پروسه مصالحه تشویق نمایند.

بعضی رسانه ها متأسفانه در پی انعکاس حوادث المناک اخیر در کشور، بجای اینکه بالای زخم دل رئیس جمهور و سایر خانواده های داغدار مرهم بگذارند و راه و چارهٔ اصلی رفع بحران و جنگ و وحشت جاری کشور را بنمایانند، برعکس با نشر مطالب تحریک کننده و انتقام جویانه به دوام جنگ و پیچیده شدن بحران می پردازند که این کار یقیناً خلاف اخلاق رسانه ای، منافی وحدت ملی و مصالح علیای کشور می باشد و هیچگونه تغییر مثبت و بهبودی را به وضعیت اسفناک مردم وارد نمی کند، بلکه اوضاع را بیشتر از پیش متشنج و بحرانی می سازد. پس بیائید که برای برون رفت ازین وضعیت مصیبت بار، راه و چارهٔ اساسی بیندیشیم، و این بار بجای تجربه جنگ و خون ریزی، راه های بدیل دیگری را جستجو کنیم.

دا د حکومت کولو کوم سلوک دی؟

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... په امریکا او اروپا کې د اقتدار خاوندانو ته دومره سهولتونه نشته څومره چې دوی لپاره په افغانستان کې دي، هره هفته یوه پښه یې په افغانستان کې وي او بله پښه یې امریکا، اروپا او دوبی کې، یوازې په یو میاشت کې په لکونو ډالره د جهاز په کرایه کې ورکوي. دلته چې د عیش او عشرت کوم ژوند تیروي د امریکا جمهور رئیس او دهغه کورنی ته هم په نصیب نه دی.

د افغانستان غریب ولس د پرون په څېر اوس هم د غربت په سختو شیبو کې ژوند تېروي، په سلو کې نوي وگړې بې کاره گرځي، چاته کار، کسب او روزگار نه پیدا کېږي، که پیدا هم شي نو مزدوري یې دومره لږه وي چې یوازې د خپل ځان چاره وربانديې کېږي، یو مزدور ته له دوه سوه افغانیو نه زیات مزدوري نه ورکول کېږي، هغه بېچاره چې پوره اته ساعته کار کوي او کافي انرژي یې له لاسه ورکړی وي دغه گټلي پیسې ایله هغه ته بس کېږي، او خپلو ماشومانو او مور پلار ته هېڅ نشي پس انداز کولې. خو بل لورې د اقتدار خاوندان دي چې دهغوی ماشومان یوازې په یوه ورځ کې د زرگونه افغانیو پخپلو قیمتي موټرو کې تیل اچوي.

قیمتي هوټلونو ته ځي او هلته د یو وخت ډوډۍ لپاره زرگونه ډالره ورکوي. د غریب ولس تنکي او با همته ځوانان د زده کړې ارمان کوي خو غریبی دهغوی مخه نیولې، کم عمره ځوانان ددې پر ځای چې زده کړې وکړي د ټاټکیو مزدوري پسې سرگردان دي وچې شونډې او زیړ مخونه په چوکونو کې د مزدورۍ په تمه ولاړ وي چې څوک پیدا شي او مزدوري ته یې بوځي، ورځ تېره شي خو مزدوري ورته پیدا نه شي، له ځینو سره خو په جیب کې ایله د وچې ډوډۍ د اخستو پیسې وي خو ډېر ځوانان په خالي گېډه ویده کېږي.

په دفاترو کې چې د تنخواگانو کوم فرق تر سترگو کېږي دا هم ځورونکي دی، یوه یې په میاشت کې په زرگونو ډالره تنخواه اخلي او بل یې سل یونیم سل ډالره، یوه یې په دغې تنخوا خپل ځان هم نشي ساتلې او بل یې په دوبی او اروپا کې خانله ښلډینگونه جوړوي.

په هر څه ددغو حکومتي لوړ پوړیو چارواکو قبضه ده، هر څه ددوی په واک او اختیار کې دي، لنډه دا چې ولس د خپلو ټولو روا حقوقو څخه محروم دی. هغه ځوان نسل چې د هېواد متې او بازو گڼل کېږي، هغه ځوان چې د هېواد مستقبل ورپورې تړل شوې که هغه د غربت، پریشانی او لوږې په میچنه کې دل کېږي، دهغه استعداد او انرژي سوځول کېږي. هغه ته په حقارت او ذلت سره کتل کېږي، نو د هېواد د پرمختگ او دفاع چارې به څوک پرمخ وړي؟ د ساینس او ټکنالوژې په دې زمانه کې به څوک له ځوان نسل نه پرته دغه مسؤولیت ترسره کوي !؟ زه دهغه تنکي ځوان وچې شونډې له یاده نه شم ویستلې چې د یوولسم ټولگي د سالانه ازموینې له ورکولو وروسته کابل ته مزدوری ته راغلی و خو دلته د یوې هفتې له مزدورۍ وروسته بې کاره پاتې شوې و، او هغه گټلې پیسې یې هم خوړلې وی، کله چې زما خواته راغې نو رنگ یې زیړ اوښتی او شونډې وچې وې، راته یې وویل چېرته کار خو راته و گوره چې راتلونکی کال لپاره د سبق خرچه راوباسم خو ډېر افسوس چې ما ورته کار پیدا نه کړې شوه او خپه رانه لاړو.

همدغه ځوان نسل. د ولس متې او د خاورې محافظ دی، که چېرته حکومت ددوی د مضبوطولو پرځای پخپل لاس یې ماتوي او یا دومره کمزوری کوي چې د کار کولو جوگه پاتې نشي نو ددې ښکاره مطلب لدې پرته بل څه کېدلې شي چې دوی پخپل لاس هېواد د تباهی کندې ته ورټیل وهي؟

چارواکی دې دغه واقعیت ته ښه متوجه شي چې هر چا خپل ولس او ځوان نسل ته په سپکه کتلي دي، دهغوی پر مال او عزت ډاکه اچولې هغوی کله هم مرام ته نه دي رسیدلي، که چېرته د هېواد واکداران په ځانگړی ډول جمهور رئیس دغې د ظلم او ناروا روانی لړۍ ته د پای ټکې کېښږدي نو لېری نه ده چې همدغه مظلوم ولس به ډېر ژر د خپلو حقوقو دترلاسه کولو لپاره ددوی په خلاف پاڅون وکړي او د اقتدار مانۍ به یې ونړوي.

ښه به دا وي چې د اقتدار خاوندان نور خپل دې روش ته بدلون ورکړي، دغه سلوک ته نه په اسلام کې ځای شته او نه هم د نړۍ په نورو قوانینو کې، ددې پرځای چې بیت المال ولوټې او هر څه پخپلو جیبونو کې واچوي ښه به دا وي چې خپلو حقدارانو ته ورکړي، د ولس او ځوان نسل قدر او احترام دې وکړي، دهغوی حقوقو ته دې په درنښت ورگوري، له اندېښنو او غمونو څخه دې ورته نجات ورکړي تر څو د خپل خاورې د پرمختگ او سلامتیا چارې په صحیح توگه ترسره کړي او راتلونکی لپاره د بل چا له محتاجي او د پردیو له هر ډول یرغل څخه وساتي.

عدل او انصاف د رعیت هغه حق دی چې نه ورکول یې حکومت ته کړاوونه پېښوي او بالاخر د حکومت د اقتدار مانۍ نسکوروي.

رعیت د حکومت پوخ بنسټ دی، کله چې بنسټ زیانمن شي نو دیوالونه او مانۍ یې خامخا غور ځېږي.

د تاریخ نوې شیبې پیلېدونکې دي

ډېرې خبرې مې په زړه وي

عبدالله "کامه وال"

د سټمبر د پېښې وروسته نړۍ وال ځواکونه چې په سر کې یې امریکایي پوځونه وو په خپل ټول زور او زوږ سره افغانستان ته د ځمکې او هوا له لارې داخل شول او د تر هګرۍ تر نامه لاندې یې د القاعده او طالبانو پر خلاف یوه پراخه جګړه پیل کړه دا چې د دې جګړې اصلي موخه څه وه او لاسته راوړنې څه دي دا بېل بحث دی خو د جګړې د قربانیانو لویه برخه عام افغانان وو نه طالبان او القاعده چې د نړیوالو ځواکونو د ړندو بمباریو او خپلسر عملیاتو په نتیجه شهیدان او کورونه یې ویجاړ شو نړی والو اشرګړو پدې جګړه کې له هېڅ ډول وژنو دریغ نه دی کړی بلکې دهرې خوښۍ او غم د پاسه یې بل غم جوړ کړی چې دا لړۍ تر ننه روانه ده دا چې نړی وال پدې جګړه ولې ناکام شول دا یو اوږد بحث دی، خو هیڅا هم داسې فکر نه کاوه چې دا په ماډرن وسلو سمبال فوځونه به دلته دومره زر په ګونډو شي او د تروریزم پروړاندې جګړه به بایلي او یا به مخالفین دومره توان ولري چې ده دومره ستر ځواک پر وړاندې مقاومت وکړي او بالاخره به یې وتو ته مجبور کړي، خو امریکا او ملګری یې وروسته له لسو کلو سختی او مرګونی جګړی دې پایلې ته ورسیدل چې افغانستان پرېږدي او ځان ته دوړو پوزه کیږدي او هغه جګړه چې د تروریزم دنابودی په موخه پیل شوی وه راټوله کړي په دغه ډله کې امریکایي پوځونو دخپلو وتلو لړی رسماً پیل کړه. د هغې پرېکړې له مخې چې د امریکا جمهور رییس کړې د سږني زېږدیز کال تر پایه به څه نا څه لس زره تنه او د راتلونکي کال تر دوبي پورې به درې دیرش زره پوځیان له افغانستانه ووځي. چې دا دی د ۶۵۰ تنو پوځیانو په وتلو سره دغه بهیر پیل شو. چې د افغانستان خلکو ته یو ښه زېری دی.

تردې وړاندې هم دیوشمیر هیوادونو ځواکونه یا له افغانستان نه وتلي او یا به ددې پروګرام سره سم له افغانستان نه ووځي، چې دې دافغانستان د تاریخ نوې شیبې پیلودونکی دی.

د بهرنیو ځواکونو د وتلو سره سم دا دی د امنیتي مسؤلیتونو د انتقال بهیر هم پیل شوی، چې د پنجشیر، لښکرګاه، کابل، مزار، لغمان، بامیان او هرات هغه سیمې دي چې په لومړي پړاو کې به د انتقال بهیر هلته پلی شي.

د ۶۵۰ تنو پوځیانو وتل به ډېر شمېر نه وی خو د بهرنیو پوځونو وتل دا دی له هېواده پیل شول.

یو ستر دلیل چې مخالفینو د اوسنی جګړې لپاره وړاندې کاوه هغه په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شتون دی، چې دادی د دغو ځواکونو په بشپړو وتلو سره که خدای کول د جګړې یو ستر لامل له منځه ولاړ. خو خدای دې وکړي چې دنوي ومو لسیزو په څېر یو ځل بیا د جګړو او سترو ناورینونو سره مخامخ نه شو.

کله چې له افغانستان نه د شوروي اتحاد لښکر په وتو شو، نو هغه پروسه چې د سولې لپاره په افغانستان کې تر لاس لاندې وه او هم هغه نړېوال بهیر چې د ژنیو د مذاکراتو ترنامه لاندې د افغانستان د کشالې لپاره په لاره اچول شوی ؤ د یو شمیر بهرنیو او کورنیو کړیو دسیسو ښکار شوه او هم د یو شمېر ډلو د غفلت او ځان غوښتنې له کبله یې د افغانستان په خلکو ستر ناورینونه تحمیل کړل. په دغه وخت کې زموږ د یو شمېر ګاونډیانو او پخوانیو کمونستانو دسیسې به کله هم زموږ تاریخ هیرې نه کړي، چې په څه ډول یې د افغانستان خلک په خپلو مېنځو کې سره واچول او په څه ډول یې زموږ ښارونه په کنډوالو بدل کړ او افغانستان یې له بدمرغیو سره مخامخ کړ.

دا ځل باید تیرې تجربې تکرار نه شي ټول ښکیل لوري باید د افغانستان د خلکو د نیکمرغۍ په فکر کې واوسي او پرېږدي چې د بهرنیو پوځونو په وتو سره بیاهم تیرې تجربې تکرار شي. د دې موخې د ښې لاسته راوړو لپاره د سولې پروسه او هغه بهیر چې د خبرو اترو لپاره په پام کې نیول شوی د ټولو لورو له خوا باید په صادقانه توګه عملي شي، او بیا افغانستان پرېنږدو چې دلویدیزو پوځیانو له وتو سره د نوو دسیسو ښکارشي، چې له همدا اوسه په کمین کې ناست دي.

مهمه خبر داده، چې نور یواځې خپلې ګټې په پام کې لري که هغه لویدیز هیوادونه دي یا د سیمې هیوادونه هیڅ بهرنی د افغانستان د ګټو او زموږ د خلکو دهوساینې پروا نه ساتي او نه هم زموږ په درد دردمند دی لاهم که زموږ له دردہ او کړاوه کومه ګټه لاسته راوړي نو د دغو کړاوونو په زیاتونه کې له هیڅ شی دریغ نه کوي. نو دا زموږ دنده چې په خپل هیواد کی څه ډول سوله راوستی شو او څنګه خپل هیواد دنورو له دسیسو څه ډول ژغورلی شو.

افغانان دخپلواکۍ په لاسته راوړو کې ښه تورزن، بریالی، زیان منونکي او صبور دي خو بیا په ساتنه کې یې له بده مرغه ناغیرې او بې پروایی کوي چې بیا وروسته له ستونزو سره مخامخ کیږي چې زموږ تیر تاریخ زموږ د دې خبرې ګواه دی. خدای دې وکړی چې داځل مو له خپلو تیروتیروتنو درس اخیستی وی او د ناوړه پیښو د تکرار مخنیوی وکړو.

په داسې حال کې چې له افغانستان نه د بهرنیو ځواکونو د وتلو د پیل په هکله ټول ولس ته مبارکی وایم خو باید پدی هم پوه شی چې دا دغمیزو پای نه دی، که د بهرنیو ځواکونو په بشپړو وتو سره دا هیله موږ ته پیدا کیږي، چې نور به زموږ ملکي هیواد وال نه وژل کیږي، نور به زموږ به کلیو او بانډو بمبارونه نه کیږی، نور به زموږ هیوادوال په لار کې د بهرنیو ځواکونو د کتار دتېریدو له امله نه تم کیږی نوربه د خپلو بېګناه هیوادوالو له نیولو او دبهرنیو له لوری زندانو ته نه اچول کیږی، نور به زموږ ماشومان د الوتکو له غږونو له خوبه نه راویښېږی، نور به موخپله هوایی فضا او ځمکنی واک خپل وی... خو داهم ممکنه ده چې زموږ خپل مینځي جګړه لاهم زور واخلي، دا ویره هم شته چې افغانان به ګډ تفاهم ته سره ونه رسېږي، داسې امکان هم شته چې د ګاونډیو او سیمې هیوادونو د دسیسو ښکار شو، داسې هم کیدای شي چې زموږ اقتصادي وضعیت خراب شي... نو د دې لپاره چې له بدو پایلو سره مخامخ نه شو، هم زموږ هیوادوال، هم دولت، هم مخالفین او ټول افغانان باید لاسونه سره ورکړو اوداسې پروګرامونه د راتلونکي لپاره په کار واچو چې هیواد دنیکمرغی پر لور روان کړي او له بدمرغیو یې وساتي.

قرباني

سید فضل مولا "لټون"

د قربانی کلمه په بېلا بېلو ټولنو کې په بېلا بېلو اصطلاحاتو سره کارول کېږي. زموږ په اسلامي ټولنه کې د قربانۍ د کلمې له اورېدو سره د انسان ذهن ته د لوی اختر په ورځو کې د ابراهیم علیه السلام د سنتو د عملي کېدا په خاطر د څارویو قربانې وریادېږي، ددې تر څنګ د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد له امله شهادت ته هم قرباني ویل کېږي او همدارنګه د الله جل جلاله د رضا لپاره د مال، ځان او وخت لګولو ته هم د قربانی اصطلاح کارول کېږي، دغه رنګې د وطن د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره د قربانۍ ورکولو اصطلاح هم موجوده ده.

خو زه نن له تاسې ټولو ښاغلیو نه د بل ډول قربانۍ غوښتنه کوم دا د سر او مال قرباني نه ده، دا د وخت قرباني هم نه ده، دا یو بل ډول قرباني ده، چې په اوسنیو شرایطو کې زموږ هېواد او هېوادوال ورته تر بل هر ډول قربانۍ زیاته اړتیا لري.

دا خو راسره ټول مني چې زموږ ګران هېواد له درې نیمو لسیزو راپه دې خوا سخت ویجاړ شوی دی، او دا ویجاړتیا په دې معنی هم نه ده، چې ګونډې یوازې ودانۍ یې ورانې شوې دي، بلکې ټولنیز، اقتصادي، سیاسي ټول جوړښتونه یې ویجاړ شوي دي. غمیزه خو یې لا داده چې د مشر - کشر، لوی - واړه، پوه - ناپوه، عالم - جاهل، باسواد - بی سواد، سیاستپوه او ناپوه او دا وړ ټول ارزښتونه چې د یوې ټولنې بقا ورپورې تړلې ده له لاسه ورکړي دي.

په ټولیز ډول مو کشران ډېر کم شوي او یا د نشت برابر دي، ځکه چې هر څوک د مشرۍ دعوه لري، د پلارولۍ او زوی ولۍ معیار ډېر راټیټ شوی دی او زامن ډېر لږ دې خبرې ته تیاری لري، چې د خپلو پلرونو پر پلونو پل کېږدي، ناپوهان ډېر کم شوي دي، ځکه چې هر څوک مو د پوهې دعوه لري ستر لامل یې همدا دی چې د پوهنې کیفیت په ښوونځیو او پوهنتونونو کې هر ورځ تر بلې راټیټېږي، په ټولنه کې د معلم او استاذ هغه پخوانی اهمیت او ارزښت او درناوی نه لیدل کېږي، ځکه چې داسې کسان هم معلمان شوي دي، چې حتی د خپل ښوونځی د سرمعلم صاحب په نامه د ناروغی او اړتیا رقعه هم لیکلای نه شي د همدغو ښاغلیو له امله به د شاګرد او معلم اړیکې څه ډول وي.

همدا اوس مو د هېواد پر درېواړو قواو ځنې داسې ښاغلي پر لوړو مقاماتو کې راځي، چې د سیاست الف با یې خو لا څه چې د خپل ګران هېواد جغرافیوي حدود به درته ونه ویلای شي، ولې په واز کومې او برندو سترګو د خلکو او رسنیو په مخکې درېږي او د یوه داسې هېواد د برخلیک په باب چې بهرنیو او داخلي توطئو د فلج حالت ته رسولی په باب خبرې کوي او تصمیم نیسي.

د دیني عالمانو په باب به زه د یوه خپل مزاحیه شعر یوه ټوټه راواخلم:

جامې سپینې بوټان رنګ کړی محتاط ګرځي
بولي ځان سیاستدان خو ټکي ټکي
پخپل عمر یې لوستلی کتاب نه وي
ټول چرېان شول مولویان خو ټکي ټکي

رښتینو با تقوا او با عمله عالمانو ته سلام، خو که رښتیا ووایو له ډېرو لږو یې پرته زموږ په ټولنه کې اوس هغسې دیني عالمان چې د سړي ستر ګې به یې په لیدو یخېدې ډېر کم شوي دي، هر چا سپینه پګړۍ تړلې، سپینې جامې یې اغوستې او یو څو له عقل او تدبیره عاري خو له احساساتو ډکې خبرې یې زده کړي او ځانونه په عالمانو کې شمېري، او د عالم او جاهل فرق یې له منځه وړی دی، د سواد غمیزه خو مو لا همداسې پر سرونو پرته ده، که همداسې د روابطو پر بنسټ مو د ښوونځیو معلمان مقررېدل، نو باسواده لېسانسه به هم ډېر کمیابه شي.

د سیاستپوهانو به لا څه وایې، همدا اوس مو د هېواد پر درېواړو قواو ځنې داسې ښاغلي پر لوړو مقاماتو کې راځي، چې د سیاست الف با یې خو لا څه چې د خپل ګران هېواد جغرافیوي حدود به درته ونه ویلای شي، ولې په واز کومې او برندو سترګو د خلکو او رسنیو په مخکې درېږي او د یوه داسې هېواد د برخلیک په باب چې بهرنیو او داخلي توطئو د فلج حالت ته رسولی په باب خبرې کوي او تصمیم نیسي.

ددې مثال داسې دی لکه یو څوک چې ډرېور نه وي، خو یو بل ورته وایي دا کروزین موټر په دې شرط درکوم چې ډرېوري به یې پخپله کوی، ښه نو دغه ښاغلی که د ډرېورۍ له شرط سره موټر اخیستلو ته زړه ښه کړي، تاسې وواياست چې په همدا څو شیبې ډرېورۍ به یې ځان، موټر او نور وګړي هلاک کړی نه وي؟ همداسې زموږ ځنې ښاغلي سیاستوال درواخلئ، چې ددې هېواد د برخلیک ټاکنې په ډېرو مهمو مقاماتو کې ځای لري او یا یې دلاسته راوړنې هڅې کوي.

زه له دې ټولو ښاغلیو نه د خدای جل جلاله لپاره، ددې ځوریدلي او کړیدلي ملت لپاره او ددې مظلوم هېواد لپاره د یوې قربانۍ هیله کوم، او هغه داده:

راځئ خپل ځانونه او خپلې وړتیاوې پخپله وتلو او هماغومره ځانونه وښیو چې د خپل وجدان او ضمیر په تله کې ځېږو.

از یک حملهء بزرگ تروریستی در کابل جلوگیری شد "لطف الله مشعل"

کابل، رسانه ها:
ادارهء امنیت ملی افغانستان می گوید: موظفین امنیت ملی با کشف دو مخفیگاه سلاح و مهمات در اطراف میدان هوایی شهر کابل، مانع حملات بالای طیاره های ملکی و اختطاف مسافران، شده اند.
لطف الله مشعل سخنگوی این اداره به روز سه شنبه در یک نشست خبری در کابل گفت که در این مخفیگاه ها سلاح های سبک و سنگین از جمله راکت های که می تواند طیاره ها را هدف قرار دهد، موجود بود.
به گفتهء آقای مشعل، این موضوع در نتیجهء تحقیقات از یک گروه تروریستی که چندی پیش از کابل بازداشت شده بود، کشف شده است.
وی در ادامه گفت:
"از یک پلان وسیع دشمن در ولایت کابل جلوگیری شد. دو مخفیگاه مهم تروریستان در حومهء میدان هوایی شهر کابل کشف گردید."
در عین حال مسوولان ریاست امنیت ملی افغانستان می گویند: در رابطه به قضیهء قتل احمد ولی کرزی رییس شورای ولایتی قندهار و جان محمد خان مشاور رییس جمهور و حمله بر هوتل کانتیننتال نیز پیشرفت های صورت گرفته است.
به گفتهء سخنگوی این اداره، در پیوند با این قضایا شماری از افراد نیز بازداشت شده اند و جزییات بیشتر پس از تکمیل شدن تحقیقات با رسانه ها شریک ساخته می شود.
از سوی دیگر ریاست امنیت ملی افغانستان از بازداشت یک گروه تروریستی شش نفری به رهبری یک دختر جوان از ولایت غزنی نیز خبر می دهد.
سخنگوی امنیت ملی می گوید: این گروه در قضایای مختلف اختطاف در این ولایت دست داشته و با گروه طالبان هم ارتباط داشت.
وی گفت:
"افراد دستگیر شده در جریان تحقیقات اعتراف کردند که در چندین قضایای اختطاف دست داشتند و هم چنان اظهار داشتند که توسط شخصی به نام سید اسماعیل آغا معاون ملا عوض یک تن از قوماندانان طالبان، ملا فاتح، ملا دریا خان و قاری معاذ الله به این گروه جذب شده بودند و به دستور افراد متذکره در چندین فعالیت های تروریستی و تخریبی در مربوطات ولایت غزنی سهم فعال داشتند."
مسوولان ادارهء امنیت ملی افغانستان در حالی از دست آورد های تازه در زمینهء جلوگیری از فعالیت های تروریستی خبر می دهند که گفته می شود مخالفان مسلح با وارد کردن تغییر در تکتیک های جنگی شان در این اواخر، مقام های بلند رتبهء دولتی، بزرگان قومی و تاسیسات دولتی را بیشتر مورد حمله قرار می دهند.
اما نهاد های امنیتی افغانستان می گویند: تلاش ها به هدف جلوگیری از این حملات و سرکوب مخالفان در بخش های مختلف این کشور به شدت ادامه دارد.

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

نیشنل انټرسټ:
د نیشنل انټرست خپرونه، چې له امریکا څخه خپرېږي په افغانستان کې روانو حالاتو ته د کتنې په ترڅ کې دا پوښتنه مطرح کوي، چې دې هېواد څخه به څه جوړ شي؟
خپرونه لیکي:
له دې سرلیک څخه لوستونکي بې له شکه یو منفي نظر اخلي، سره له دې چې د افغانستان جګړه اوس د امریکا په تر ټولو اوږدو او خونړیو جګړو بدله شوې ده او هر کال سلګونوامریکایي عسکر په کې مري خو په دې هېواد کې ډېر کم پرمختګ لیدل کېږي.
تر ټولو وروستي خواشینونکي خبر دا وو، چې یو شمېر لوړ رتبه دولتي مقامات په پرله پسې ډول د وسله والو طالبانو، ناراضي افرادو او سرکشو عسکرو له خوا ووژل شول.
تر دې وړاندې پر انټرکانټیننټل هوټل حمله او تر هغه وړاندې د ولسمشر کرزي او ولسي جرګې ترمنځ د انتخاباتو په سرلانجه وه، چې د خپرونې په باور، جمهور رییس یې باید په فیصله کې مداخله نه وای کړای.
د نیشنل انټرست خپرونه لیکي:
تردې مسایلو مخکې ولسمشر کرزي د افغانستان په وړاندې د امریکا د نیت په اړه پوښتنې وکړې او تر هغه مخکې بیا د کابل بانک رسوایي وه، چې د خپرونې په لیکنه د ولسمشر حامد کرزي دوستانو او نږدې خلکو تر زیاته حده په غیر مشروع ډول له دې لارې سرمایې پیدا کړې دي.

له افغانستان څخه به څه جوړ شي؟

INAUGURATION FINAL

The Washington Post

Obama Takes Charge

NATION ASKED TO BEGIN TASK OF 'REMAKING AMERICA'

In His Moment, Many Feel Echoes Of Their Own Stories

A Historic Inauguration Draws Throngs To the Mall

د دې ټولو ناوړه خبرونو ترڅنګ، په افغانستان کې جګړې او نښتې هم هغومره چې توقع یې کېده نه دي راکمې شوې دي.
د پاکستان د مشکوکو همکاریو مسله هم ده او په خپله خاوره کې د وسله والو طالبانو له پټو ځایونو دفاع کوي.
نیشنل انټرسټ لیکي:
اوس چې جنرال جان الن او ریان کراکر په کابل کې خپل مسولیتونه اخلي ایا د امیدوارۍ ځای شته که نه؟
خپرونه د دې سوال په ځواب کې لیکي، هو امید شته خو د برۍ له واقعي او سم تعریف سره.
واشنګټن پوسټ:
واشنګټن پوسټ ورځپاڼه لیکي، چې کارل ایکن بیري نیمه لسیزه په افغانستان کې د رواني جګړې په خدمت کې تېره کړه او بلاخره په دې هېواد کې د هغه دوې پوځي او یوه دیپلوماتیکه دوره تېره اوني پای ته ورسېده.
پخواني دیپلومات راین کروکر، چې د دوشنبې په ورځ یې د نوي سفیر په توګه په دنده پیل وکړ او د سمندري قواوو قوماندان جنرال جان الن چې له جنرال ډیویډ پټریس څخه یې د ځواکونوعمومي قومنده واخیسته د دوي افغان ملګرو ته چې له واشنګټن سره د ګنو پالیسیو په لانجه کې ښکیل دي یو څه امید پیدا کړی دی.
د واشنګټن پوسټ په لیکنه:
د ولسمشر حامد کرزي په نږدې کړیو کې له احتیاط څخه ډکه خوشبیني موجوده ده او باور کېږي، چې ښایي یوه نوې او تازه صفحه پرانیستله شي.
د ملي امنیت په چارو کې د ولسمشر حامد کرزي د سلاکار مرستیال شیدا محمد ابدالي، چې ولسمشر ته له نږدې کسانو بلل کېږي ورځپاڼې ته ویلي:
مونږ ستر مخالفتونه درلودو او هیله لرو، چې دا نوې ډله به د افغانستان په وړاندې د امریکا کړه وړه بدل کړي.
د واشنګټن پوسټ ورځپاڼه زیاتوي:
له کابل څخه د ستانفورد پوهنتون په لور د تګ پرمهال کارل ایکن بیري د اداراو د جوړولو او له فساد سره د مبارزې او افغانانو ته د ټولنیزو خدماتو او امنیت په برابرولو کې د کابل د حکومت ټکني اقداماتو ته اندېښمن وو.
ایکن بیري اندېښمن وو، چې د کابل حکومت به له اصلاحاتو پرته او د امنیت او اقتصاد د ټینګولو لپاره په لږ شمېر امریکایي عسکرو او لږو پیسو پر هغو سیمه ایزو ډلو او وسله والو ګروپونو خپل کنټرول له لاسه ورکولای شي، چې په افغانستان کې په وحشتناکه کورنۍ جګړه کې د ګډون سابقه لري.

بانک جهانی در صورت عدم ...

وجود دارد، می تواند اقتصاد افغانستان در معرض خطر قرار گیرد.
به نقل ازمنبع، در سالهای ۲۰۱۰ و ۲۰۱۱ مصارف نیروهای نظامی خارجی بیشتر از ۱۰۰ میلیارد دالر امریکایی و سایرمصارف کمکهای جامعهٔ جهانیبه بیشتر از ۱۵،۴ میلیارد دالر امریکایی تخمین گردیده وعوایدمجموعیسرانه ناخالص این کشور در سال گذشته تقریباً ۱۶،۳ میلیارد دالر تخمین شده است.
او گفته است: "گمان میرود زمانیکه نیروهای نظامی خارجی این کشور را ترک کنند، کمکهای جامعه جهانی نیز تقلیل خواهد یافت، درافغانستان مصارف انفرادی افغانها رابطه مستقیم با مصارف نظامی و کمکهای جامعه بین المللی داردو افغانستان یک کشور فقیر و نادار بوده ونمی تواند رکود اقتصادی را تحمل کند مخصوصاً اگر نا امنی های بیشتر این کشور را تهدید کند"
وی می گوید که افغانستاندر بین ۱۵۵ کشوری که درسال ۲۰۱۰د رشد شاخص‌ها ی صحت، تعلیم و تربیه، جمع آوری عوایدو سایر شاخص هاشناسایی شده، در رده های اخیر شاخص انکشاف منابع بشری سازمان ملل متحد قرار دارد.
موصوف گفته است که قطع مصارف نیرو های نظامی خارجی و سایر کمکهای جامعه جهانیضربه جدی به تلاشهای دولت افغانستان در قبال عرضه خدمات، ایجاد زیربناء ها بخصوص در عرصه سکتور ترانسپورتوامنیت، وارد خواهد کرد.
به اساس معلومات منبع، اقتصاد این کشور طی پنج سال گذشته رشد چشمگیری داشته که سالانه ۱۰ فیصد رشد را شاهد بودهاما این رشد ارتباط مستقیم با مصارف نیروهای نظامی خارجی و کمکهای بین المللی داشته است.
وی گفته است که همکاران بین المللی افغانستان باید این موضوع را درک نموده، تلاش نمایند، تا کاهش مصارف خویشرا بطورمسولانه و مدبرانه تنظیم نموده تا از هر فاجعه احتمالی جلوگیری صورت گیرد.
رییس بانک جهانی رشد و توسعه اقتصادی را نیاز حیاتی و مبرم برای افغانستان می داند و از جامعه جهانی می خواهد تا قسمت زیاد کمکهارا از طریق بودجه ملی افغانستان به مصرف برساند.

نړیوالو ځواکونو یو ځل بیا ...

ایساف په هوایي برید کې درې عام وګړي ووژل شول او یو ټپي شوی دی.
دنوموړي په وینا، په دې اړه یې څېړنې پیل کړې دي.
د اسعد اباد د ملکي روغتون رییس ډاکټر فاروق سهاک پژواک اژانس ته وویل، چې له وټه پور ولسوالۍ ورته پنځه ټپیان راوړل شوي او روغتیایي حالت یې د ډاډ وړ دی.
په ملکي روغتون کې د ایساف په بمبار کې د یوه ټپي پایواز رحمان الله پژواک اژانس ته وویل، چې په دغه بمبار کې یې دوه د تره زامن وژل شوي او یو یې ټپي دی.
هغه زیاته کړه، چې وژل شوي د تره زامن یې د وټه پور د لبسې زده کوونکي او غره ته د خس راوړلو په موخه تللي وو.
د کونړ د پوهنې ریاست تدریسي مرستیال عبدالقهار هم پژواک ته ومنله، چې د ایساف په بمبار کې د لبسې دوه زده کوونکي وژل شوي دي.
څو میاشتې مخکې هم ایساف ځواکونو د دغه ولایت په مانوګي ولسوالۍ کې هغه مهال په هوایي برید کې اته ماشومان ووژل، چې غره ته د سون په لرګیو پسې تللي وو.
د یادونې ده، چې په دې وروستیو کې د ایساف ځواکونو له خوا یو ځل بیا د عامو وګړو د وژلو لړۍ پیل شوې ده.
د غزني د ملکي روغتون د رییس په وینا، تېره اونۍ ایساف ځواکونو د دوی د روغتون د یوې ډاکټرې په ګډون درې تنه د میدان وردګو په سیدآباد ولسوالۍ کې پر ډزو ووژلې وو.
تېره میاشت هم د ایساف ځواکونو له خوا په هلمند کې د یو شمېر ماشومانو په ګډون د ۱۳ ملکي وګړو وژل شوي وو، چې وروسته ولسمشر حامد کرزي سخت غبرګون وښود او زیاته یې کړه، چې که ایساف د عامو وګړو د وژلو پېښې تکرار کړي، نو ولس به ورته د اشغالګر ځواک په سترګه وګوري.

امریکا از افغانستان رو...

نیروها از افغانستان عجله نمی کند.
آقای کراکر روز دوشنبه بعد از آن که منحیث سفیر امریکا در افغانستان به کارش آغاز کرد، هشدار داد که عجله در خروج نیروها از افغانستان می تواند عواقب ناگوار را برای افغانستان و حتی فراتر از افغانستان در بر داشته باشد.
به گفته وی، کشورش هیچ علاقه مندی به داشتن پایگاه های دایمی در افغانستان ندارد.
وی گفت:
"ما به داشتن پایگاه های دایمی در افغانستان دلچسپی نداریم، این موضوع را رییس جمهور، وزرای خارجه و دفاع ما هم ابراز داشته اند و من هم آن را تکرار می کنم که یک روز هم بیش از ضرورت در افغانستان نخواهیم ماند."
راین کراکر تلاش خواهد کرد روابط بین افغانستان و امریکا را ترمیم کند.
رییس جمهور کرزی شک و تردید اش را در مورد تعهدات امریکا به افغانستان ابراز داشته و گفته است، برای آینده، خود حمایت کشورهای چون ایران را اخذ نموده.
روابط آقای کرزی با سفیر قبلی امریکا در کابل کارل آیکن بیری چندان خوب نبود.
آیکن بیری در این اواخر به اظهارات رییس جمهور کرزی که نیروهای امریکایی را اشغالگر خوانده بود، عکس العمل شدید نشان داده بود، ولی گفته می شود رییس جمهور افغانستان به حمایت نظامی و ملکی امریکا سخت نیاز دارد.
بر اساس گزارش آژانس خبری اسوشیتد پرس، آقای کرزی با وجود آن که به امریکا نیاز دارد، بالای آن کشور انتقاد می کند.
گفته می شود یکی از تلاش های راین کراکر این هم خواهد بود که روابط امریکا و رییس جمهور کرزی را بهبود بخشد.

د امریکا په ملیونونو ډالر ...

ویل کېږي وسله والو ته (سنډای ګروپ او ابن ابل سي هولډینګز) کمپنۍ هم پیسې ورکړې، چې د دفاع وزیر رحیم وردګ زوی حامد وردګ یې بنسټګر او مشر دی او مرکزونه یې په واشنګټن کې دي.
دا خبره، چې د امریکا څارګرې ادارې ایف بي ای او ملي امنیت کړې تراوسه یې دا نه ده په ډاګه کړې، چې څومره پیسې وسله والو ته رسېدلې دي.
د پنټګان ویاند ډګروال لاین وایي د ستونزې د اوري لپاره یې هڅې پیل کړې او په افغانستان کې به د امریکایي مالونو د لېږد لپاره ژر نوی تړون اعلان شي.

د مخابراتي شبکو ۱۱۰ نوي ...

اوه ولسوالیو کې به یوسلو لس نوي تاورونه ودرول شي.
په دې به شل میلیونه ډالره لګښت راشي او په یوه کال کې به فعال او خلک به ترې ګټه واخلي، داوطلبي یې اعلان شوه او د داوطلبي وړونکي به یې پر غاړه واخلي."
دا وزارت وایي اوس مهال په ټول هېواد کې د مخابراتو شبکو له درې زرو څخه زیات تاورونه فعال دي چې د هېواد زیاترو خلکو ته مخابراتي خدمات رسوي.
دا وزارت دا هم وایي، د هېواد د نوري فایبر مزي اوس مهال د هېواد ټولو ګاونډیو هېوادونو سره تړلي او خلکو ته د تیلیفون او انټرنیټ په خدماتو کې زیاتې اسانتیاوې برابرې کړې دي.
انجنیر خیر محمد فیضي دا هم وویل، چې په ځینو سیمو کې ناامنیو د دوي فعالیتونه ټکني کړي او که نه نو دوی پلان لري چې تر راتلونکو درې څلورو کلونو پورې د هېواد ګوټ ګوټ ته مخابراتي خدمات ورسوي:
"په هغه صورت کې چې امنیتي شرایط ښه اوسي، ممکن دا وزارت سربېره پر دې تاورونو پنځوس نور تاورونه هم په مختلفو سیمو کې ودروي.
پلان دا دی چې په درې کلونو کې غواړو ټول افغانستان ته مخابراتي خدمات ورسېږي البته د امنیت د ښه والي په شرط."
فیضي زیاته کړه، د نوېو خدماتو څخه څه باندې دوه لکه هېوادوال ګټه واخلي.
سره له دې چې د مخابراتو وزارت په هېواد کې د مخابراتو خدماتو د پراختیا خبرې کوي، خو ځیني خلک د دې خدماتو د کیفیت له ټیټوالي او د بیو له لوړوالي شکایت کوي.
خلک دا هم وایي، چې په ځینو سیمو کې، د مخالفینو د ګواښونو له امله د تیلیفون مخابرې د شپې له خوا بندېږي.
خو د مخابراتو وزارت وایي، دی ستونزې ته یې تدابیر نیولي او تر ډېره خایه یې شته ستونزه اواره کړې ده او نورې هڅې کېږي چې ستونزه په بشپړه توګه له منځه لاړه شي.

حامد کرزی: تا وقتیکه شرایط ما...

شرایط را نپذیرند، این پیمان به امضا نمی رسد."
پیش از این رنگین دادفر سپنتا مشاور امنیت ملی افغانستان هم در ولسی جرگه کشور گفته بود که هیچ تضمینی برای امضای این قرارداد وجود ندارد.

شهادت اونیزه
دغه رنګ مړ تاسي غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com